لیکوال: شریف بهاند اکتوبر ۲۰۰۷

# د اروواسیا Eurasien د سیمې پر سر سیالي

## ( دوهمه برخه )

### اوراسیا:
### د متحدو ایالتونو ستراتیژۍ او د روسیې او چین موخې

له پورتنیو ارزونو او د اومه توکو له شمیرنو څخه دا پایله ترلاسه کېږي، چې د اوسنیو شرطونو له په پام کې نیولو سره اروواسیا Eurasien له جیوستراتیژیک پلوه د نړۍ تر ټولو مهمه او با ارزښته سیمه ده. د دغه ارزښت په باب د متحدو ایالتونو د پخواني ولسمشر، جیمی کارتر د ملی امنیت سلاکار، زبیګنیو بریژینسکی ویلي: "هر هغه څوک چې اروسیا تر خپلې ولکې لاندې ولري، نو ښايي د نړۍ د تر ټولو پرمختللو او له اقتصادي پلوه د اغیزمنو سیمو له دریو څخه پر دوو باندې واک وچلوي. یوازې نقشې ته نظر اچول دا روښانه کوي، چې پر ارواسیا کنترول څه نا څه په اوتوماتیک ډول پر افریقا باندې کنترول هم دئ" ( Brzezinki, Zbigniew, 2003, S. 54 ). ... ځکه نو "اروواسیا د سطرنج هغه تخته ده، چې پر نړۍ باندې د راتلونکې برلاسۍ (تفوق) له پاره لوبه پرې تر سره کېږي" (Brzezinki, Zbigniew, 2003, S. 57 ). د بریتانوی هند پخوانی ویسرا، لارډ کرزن لا په کال ۱۸۹۸ کې د اوراسیا منځنې برخې ارزښت ته نغوته کړې او ویلی و: " ترکستان، افغانستان، د کسپین د سمندرګي شأ و خوا هغه ځایونه دي، چې ... وژونکې خيالي داستانونه مالومیږي، خو زه له خپله اړخه اعتراف کوم، چې دا سیمې د سطرنج هغه داني ګڼل کېږي، چې د نړۍ د واکمنۍ له پاره، لوبې ورباندې کیدای شي "(اډامیک، لوډویک، ۱۳۷۸ ، مخ ۱۲۲) . په دې سیمه کې د نورو تر څنګ قفقاز او منځنۍ اسیا ډیرې مهمې سیمې بلل کېږي. دلته د کسپین د سمندرګي په شأ و خوا کې تر هرڅه دمخه د تیلو او ګازو زیرمې ستر رول لوبوي. منځنۍ اسیا او په تیره د قفقاز سیمې ته د متحدو ایالتونو "د نوې پیړۍ له پاره د ملی امنیت په ستراتیژۍ" کې ځانګړی ځای ورکړل شوی او په هغې کې د دې سیمې په باب راغلي: " د کسپین سمندرګی به، چې د اټکل له مخې په کې ۱۲۰ میلیارده بیرله د تیلو زیرمې پرتې دي، په راتلونکو لسیزو کې د انرژۍ له پاره د زیاتیدونکو اړتیاوو په له منځه وړلو کې لا زیات او ارزښتناکه رول ولوبوي" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 3).

د پورتنيو شيمرنو له مخې د طبيعي زيرمو په تيره د فسيلي انرژۍ د پېژندل شوو زېرمو څه نا څه درې پر څلورمه برخه د اوراسيا په سيمه کې پرته ده. د نړۍ څه نا څه پينځه اويا په سلو کې وګړي ژوند کوي. همدارنګه په هغې کې د نړيوال ټولنيز ناسوچه (ناخالص) توليد شپيته په سلو کې توليدېږي (وګورئ: لاندينې جدولونه).

نړۍ: سيمه (ساحه) په ميليون کيلومتر مربع

| سيمې | اوراسيا | افريقا او منځنۍ ختيځ | سوېلي امريکا | شمالي امريکا |
|---|---|---|---|---|
| مساحت | ۳۳۷.۴۹.۸۹۴ | ۳۲.۸۲۷.۷۰۵ | ۲۸.۱۷۷.۲۲۳ | ۲۳.۴۹۲.۹۰۰ |

نړۍ: د وګړو شمېر په ميليون

| سيمې | اوراسيا | افريقا او منځنۍ ختيځ | سوېلي امريکا | شمالي امريکا |
|---|---|---|---|---|
| وګړي | ۴.۰۵۳.۴۵۵.۳۷۴ | ۷۲۹.۲۲۰.۷۲۸ | ۳۳۴.۹۱۲.۲۲۲ | ۳۸۲.۲۹۲.۰۳۲ |

نړۍ: نړيوال ټولنيز نا سوچه (ناخالصه) توليد په ميليارد ډالرو

| سيمې | اوراسيا | افريقا او منځنۍ ختيځ | سوېلي امريکا | شمالي امريکا |
|---|---|---|---|---|
| توليد | ۳۴.۰۰۰ | ۱.۵۰۰ | ۱.۷۵۰ | ۸.۱۰۰ |

اخځ:

Brzezinki, Zbigniew, Die einzige Weltmacht, 2003, S. 56

سر بېره پر دې د اوراسيا په سيمه کې د جاپان، هند، د روسيې فدراسيون او د چين ولسی جمهوريت په څېر داسې مهم هيوادونه هم پراته دي، چې نه يوازې له ستراتيژيک پلوه مهم دي، بلکې په تيره چين او د روسيې فدراسيون د دا ډول سياست فعال لوبغاړي هم ګڼل کېږي. " په همدې سيمې کې پريکړه کېږي، چې آيا د روسيې فدراسيون به د نړيوال ځواک په توګه خپل دريځ بيرته ترلاسه او چين به وکولی شي، چې دغه دريځ ته ځان ورسوي او که نه؟ ځکه دغه دواړه هيوادونه په سيمه کې فعال جيوپوليتيک پلې کوي او په احتمالی توګه د امريکا د متحدو ايالتونو له برابرو سيمه ييزو سيالانو څخه ګڼل کېږي. ځکه نو متحدو ايالتونو دغه دواړه هيوادونه تر خپلې ځانګړې پاملرنې لاندې نيولې دي " ( Mayer / Schmid, 1999, S. 23).

له همدې امله متحدو ایالتونو له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته او د سړې جګړې په بهیر کې د خپلې ټلوالې په مرسته او همکارۍ په دغې سیمې کې د پام وړ ستراتیژیکې برلاسې ترلاسه او په هغې کې د پاتې کیدو له پاره ټینګې پوځې اډې جوړې کړې دي. له سړې جګړې په تیره بیا د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې نیټې له پیښې وروسته متحدو ایالتونو د خپل اغیز د لا پراختیا له پاره د اوراسیا په سیمه کې خپل هاند و هڅه نوره هم زیاته کړې ده. په لنډه توګه سړی کولی شي ووایي، چې متحده ایالتونو خپله اصلي پاملرنه د اوراسیا سیمې ته اړولې ده.

د دغې پاملرنې بنسټیز لامل په دې کې هم نغښتی دئ، چې د نړۍ نورې برخې د ساری په توګه لاتینه امریکا او د افریقا وچه، د خپلو پام وړ طبیعي زیرمو په لرلو، سره د هغه هم د اوراسیا په پرتله له سیاسي او امنیتي پلوه له کړکیچونو او له اقتصادي پلوه له بیوزلۍ سره مخامخ دي، چې د هغو له امله نشي کولي، متحدو ایالتونو ته ګواښ رامنځته کړي. خو په ټولیزه توګه د اوراسیا د هیوادونو سیاسي، پوځي او اقتصادي ځواک، تر متحدو ایالتونو څخه پیاوړی دئ. نوځکه پر دغې سیمې باندې د متحدو ایالتونو مستقیمه او غیرمستقیمه واکمني یو ژوندنی (حیاتی) کار بلل کېږي. ځکه د دې کار په پلې کیدو سره د امریکا متحده ایالتونه، د یووزرې ځواک په توګه، کولی شي له خپل نړیوال اغیز او اقتصادي او سیاسي دریځ څخه په ښه توګه ساتنه وکړي، که نه نو دغه هیواد به له سترو اقتصادي، سیاسي او امنیتي ستونزو سره مخامخ شي یا په بله وینا: که متحده ایالتونه غواړي د نړۍ د ستر ځواک په توګه خپل اوسني دریځ وساتي، نو اړینه بریښي، چې د اوراسیا په سیمه کې د نورو ځواکونو په پرتله مخکښ او برتر رول ولوبوي او د هغو ځواکونو له رامنځته کیدو څخه، چې وکولی شي د دغه هیواد سیاست تر خپل اغیز لاندې راولي، مخنیوی وکړي. په دې اړه نوي محافظه کاران، د متحدو ایالتونو ولسمشر ته سلا ورکوي، چې د دغه هیواد له لاربنود دریځ څخه ساتنه وکړي. په دې باب د متحده ایالتونو د ملی امنیت په ستراتیژۍ کې راغلي: "ولسمشر [باید] په پام کې ولري، هیڅ یوه بهرنی ځواک ته اجازه ورنه کړي، هغه ستره برترې، چې متحدو ایالتونو له سړې جګړې څخه وروسته پر هغې بریالي شوي، ترلاسه کړي" (Jürgen, Wagner, 2003, S. 41).

سړی کولی شي، په اوراسیا کې د متحدو ایالتونو سیاست په دریو برخو کې تر څیړې لاندې ونیسي.

- د اروراسیا لویدیځه برخه: د متحدو ایالتونو د اغیز پراختیا د ختیځې اروپا په لوری د ناتو د پوځي سازمان او د اروپايي ټولنې د پراختیا له لارې؛
- د اوراسیا منځنۍ سیمه: دغه برخه دوه مهمې ستراتیژیکې سیمې لري، چې په شمال کې یې منځنۍ اسیا او د قفقاز سیمه او په سویل کې یې منځنی ختیځ پروت دئ. د اوراسیا

منځني برخه نه يوازې د تيلو او گازو د شتمنو هيوادونو لکه ايران، عراق، سعودي عربستان، کويت... او د کسپين د سمندرگي شأو خوا سيمو د درلودلو، بلکې په هغې کې د افغانستان او د ققفاز د سيمې د ستراتيژيک پريوت له امله هم د پام وړ ده. ققفاز، چې د تور او کسپين سمندرگيو ترمنځ پروت دئ او د اسيا او اروپا وچه سره نښلوي، يوه مهمه ستراتيژيکه سيمه ده. له همدې امله دا سيمه د امريکايانو له پاره سياسي او اقتصادي ارزښت لري، چې ښه بيلگه يې د باکو- تفليس- جيحان BTC د تيلو او گازو د نل ليک جوړول دي. دغه پروژه، د ۲، ۳ ميلياردو ډالرو په ارزښت جوړه او د تير کال د مى په مياشت کې د امريکا د متحدو ايالتونو د انرژۍ د وزير له خوا پرانيستل شوه (وگورئ: Spiegel Special, 2006, S. 11 ). پر سيمې باندې د اغيز موخه د انرژۍ په برخه کې د متحدو ايالتونو د گټيو سمبالښت او د تيلو او گاز د نل ليکو کنترول (وگورئ لومړۍ نقشه)،

لومړۍ نقشه: د منځنې اسيا د تيلو زيرمې او د هغوي د ليږدولو لارې




اخځ:

Kneissl, K.: Die Politik der Pipelines, in: http://www.bmlv.gv.at/omz/ausgaben/artikel.php?id=395

د روسيې د هاندو هڅو د پراختيا او رول محدودول او همدارنګه د چين او د ايران د اسلامي جمهوريت د محاصرې بشپړول دي. د دغه ستراتيژيک ارزښت له امله د متحده ايالتونو دولت په دې هڅه کې دئ، هغه په خپل پوځي شتوالي سره، چې ښه بيلګه يې افغانستان او عراق دي، تر خپل اغيز لاندې وساتي؛

- د اروآسيا ختيځه سيمه: متحده ايالتونه دغه سيمه د امنيتي تړونونو له لارې تر خپل اغيز لاندې لري، چې ښه بيلګه يې په تيره بيا له جاپان او سويلي کوريا او د ارام سمندر له ځينو نورو هيوادونو سره امنيتي تړونونه دي.

خو د اوراسيا د سيمې دغه جيوستراتيژيک او جيواکونوميک ارزښت، نه يوازې د متحدو ايالتونو د دولت او د هغه د ټلوالې او د دوی د تيلو د کنسرنونو د پام وړ ، بلکې لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، د دغې سيمې د هيوادونو لکه د روسيې د فدراسيون ، د چين د ولسي جمهوريت او داسې نورو سيمه ييزو ځواکونو د ساری په توګه چاپان، هند، ايران او ترکيې له پاره هم ژوندنی ارزښت لري. تر ټولو دمخه د روسيې فدراسيون، منځنۍ اسيا او په تيره د قفقاز سيمه خپل سياسي او امنيتي حريم ګڼي او د دې غوښتونکې دئ، د سيمې ستونزې په خپله اوارې او د نورو ستونزو له رامنځته کيدو څخه مخنيوی وکړي او په دې هڅه کې هم دئ، چې په سيمه کې د متحدو ايالتونو اغيز له منځه يوسي او په دې توګه وکولی شي له اقتصادي، سياسي او پوځي پلوه د شوروی اتحاد د وخت په څير په نړيوال نظام او نړيوالو اړيکو کې فعال رول ترلاسه کړي.

متحده ايالتونه چين ته د يوه سيمه ييز ځواک په سترګه ګوري، خو د نړيوال سياست د پوهانو په اند ، دغه هيواد په نړيوال نظام کې د "يوه ستر ځواک " د لوبغاړی په توګه خپل دريځ ثابت کړی دئ. د نړيوال ځواک دغه لوبغاړي په بيلا بيلو برخو ، په تيره بيا په اقتصادي او پوځي برخو کې داسې ځانګړتيا (ستندارد ) ترلاسه کړې، چې هغه د نړۍ د نورو سترو ځواکونو له ځواک سره د پرتلې وړ بولي. چين طبعاً له خپل دغه ځواک څخه په کار اخيستنې سره، د خپلو ملي ګټو په تعريف کې بدلون راوستی. يا په بله وينا ، ځواک يې پر اغيز (نفوذ ) بدل کړی دئ. دغه هيواد اوس په نړيوال ډګر کې د نړۍ له نورو سترو ځواکونو سره د سيالۍ په لټه کې دئ او هڅه کوي، چې تر ټولو دمخه نور ستر ځواکونه د خپل ملي امنيت له سيمو څخه شأتک ته اړ او ان وباسي. ځکه د هغوی شتوالي او اغيز د خپلو ګټو د ساتنې او پراختيا له پاره، نه يوازې خنډ ، بلکې ګواښ بولي.

چين د شانګهای د همکارۍ سازمان په اډانه کې، خپلې سرحدي ستونزې د روسيې له فدراسيون او د منځنۍ اسيا له هيوادونو ، قزاقستان، قرغيزستان او تاجيکستان سره اوارې او

وکولی شول، په خپل شمال لویدیځ نا ارامه ولایت، سین کیانګ کې ځان له هر ډول امنیتي بوختیا څخه بې غمه کړي. د نړیوالې ترهګرۍ او د القاعده د شبکې په وړاندې جګړه کې د چین د برخې اخیستنې لامل په هغې نړیوالې ټلوالې کې، چې د امریکا د متحدو ایالتونو تر مشرۍ لاندې د ۲۰۰۱ کال کې د نومبر په میاشت کې جوړه شوه، هم د سین کیانګ د ولایت نا ارامي بلل شوې دې. ځکه د دغه ولایت له اتو میلیونو څخه زیات ترک تبره مسلمان اوسیدونکي، اویغوریان له چین څخه د بیلتون غوښتنې په لټه کې دي. د چین د سیاستوالو په اند ، دغه بیلتون غوښتونکي په افغانستان کې د القاعدې د ترهګرۍ شبکې له خوا روزل کیدل. سربیره پر دې روسیه د چیچن له بیلتون غوښتونکو ، تاجیکستان د حزب التحریر او د اسلامی غورځنګ له ګوند ، د ازبکستان دولت د ازبکستان د اسلامی حرکت د ګوند له غړو او هند د کشمیر له بنسټپالو سره لاس او ګریوان وو. متحدو ایالتونو هم له دغې مناسبې موقعې څخه په ګټې اخیستنې او د چین او د روسیې د فدراسیون په هوکړې سره، د "ترهګرۍ په وړاندې د جګړې" په نامه د افغانستان پولو ته څیرمه، د ازبکستان په خان آباد ، د قرغیزستان پلازمینې ته نږدې په مناس او د تاجیکستان په پلازمینې دوشنبه، کولاب او ګورګان تپه کې د خپل پوځ له پاره هوایي اډې اجاره کړې. همدارنګه ترکیې د اینجرلیک هوایي اډه او پاکستان هم د ځینو امتیازونو لکه د څو سوو میلیونو ډالرو مرستې د ترلاسه کولو ، د متحدو ایالتونو د بندیزونو د له منځه وړلو او د نړیوال بانک له خوا د ۱۱ میلیاردو ډالرو د پور د څیړنې د تر لاس لاندې نیولو په بدل کې، نه یوازې په ښکاره د طالبانو له ملاتړ څخه لاس واخیست، بلکې خپلې ۳ ستري هوایي اډې یې هم د متحدو ایالتونو او بریتانیا د پوځونو په واک ورکړې او په دې توګه پر افغانستان باندې د پوځي یرغل سازمانی پړاو تر سره او د ناتو پوځي تړون غړو هیوادونو د متحدو ایالتونو او بریتانیا په مشرۍ د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۳۶۸او ۱۳۷۳پریکړه لیکونو پر بنسټ د طالبانو د راپرځولو ، د القاعده د نړیوالې ترهګرۍ شبکې د روزنیزو کمپونو د له منځه وړلو او د هغې د مشرتابه د نیولو او یا وژلو په موخه، پر افغانستان ستر او پراخ هوایي یرغل پیل کړ. د جګړې هر یوی لوبغاړی او ملاتړ کونکی د " امتیاز ورکړه او امتیاز ترلاسه کړه " پرنسیپ له مخې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د خوندي کولو په لټه کې و.

که څه هم افغانستان په خپله نه د ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو په لټه کې او نه هم د سترو ستراتیژیکو زیرمو سمبالونکی دئ، خو له شک پرته د خپل ستراتیژیک پریوت له امله د منځنې اسیا د بیلا بیلو ستراتیژیکو زیرمو د ویش کریدور ګڼل کیږي. ځکه د کسپین سمندرګی په وچه کې راګیر او ازادو سمندرونو ته لار نه لری، نو باید د هغه زیرمې په تیره، تیل او ګاز، د نل لیکو په مرسته یا د تور سمندرګی، یا د مدیترانې د سمندرګی او یا هم د هند د

سمندر له لارې مصرفي بازارونو ته ولیږدول شي (وګورئ دوهمه نقشه). نو ځکه د نړیوالو لوبغاړو له پاره پر افغانستان باندې کنټرول نه یوازې د دغې سیمې زیرمو ته د لارې پرانیستل او پر دغو زیرمو او د هغو د لیږدولو پر لارو د واکمنۍ په مانا ، بلکې د اروااسیا پر یوه ډېر مهم قطب د کنټرول تضمین هم دئ. یورګین شیفران Jürgen Scheffran هم دغې موضوع ته نغوته کوی او وایي: "افغانستان له نړیوالې ترهګرۍ څخه د ملاتړ په خاطر نه، بلکې تر زیاتې اندازې پورې د هغه د ستراتیژیک پریوت له امله، چې د بیلابیلو سترو ځواکونو د ګټو ټکر ځای او د تیلو د لیږدولو څلور لاره (کریدور) بلل کېږي، تر بمبارۍ لاندې ونیول شو... "
.( Scheffran, Jürge, 2003)

د هیواد د دغه ستراتیژیک پریوت له امله، بیلا بیل نړیوال او سیمه ییز ځواکونه په دې هڅه کې دي، چې د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو له پاره پر افغانستان مستقیم او یا

دوهمه نقشه: د منځنې اسیا د تیلو او ګازو د شته او پلان شوو نل لیکو د تیریدو لورې



اخخ:
Kneissl, K.: Die Politik der Pipelines, in: http://www.bmlv.gv.at/omz/ausgaben/artikel.php?id=395

غیر مستقیم اغیز ولري که په روښانه توګه وویل شي، دغه لوبه د دوه ډولو لوبغاړو له خوا تر سره کېږي.

- لومړۍ ډله: د اقتصادي پوځي ځواک خاوند هیوادونه یا په بله وینا بنستیز (کلیدي) لوبغاړي، لکه سترا و سیمه ییز ځواکونه؛
- دوهمه ډله: د ستراتیژیک پرېوت او ستراتیژیکو زیرمو خاوند هیوادونه، چي د هغو په مرسته د لومړۍ ډلي پاملرنه ځانته ور اړوي. افغانستان د دغي ډلي ډېره روښانه بېلګه ده، چي د خپل ستراتیژیک پرېوت له امله د متحدو ایالتونو او بریتانیا په مشرۍ د شمالی اتلانتیک د پوځي تړون (ناتو ) د غړو هیوادونو له خوا پر یرغل وشو.

له دغه یرغل څخه د تلوالي، په تیره د متحدو ایالتونو موخه د دوه ګوني ستراتیژي پلي کول و. په ښکاره لکه څنګه چي مخکنیو ګرښو کي یادونه وشوه، د طالبانو د رژیم راپرځول او د القاعده د ترهګري شبکي او د هغي د مشرتابه له منځه وړل دي. خو د ستراتیژۍ بنسټیزه موخه د منځني اسیا د اومه توکو او فسیلي انرژۍ پر زیرمو کنترول، له دغو زیرمو، په تیره د هغو د لیږدولو له لارو څخه د روسیې او ایران محرومول، د چین او روسیې د محاصرې بشپړول او د هند او چین د لا زیاتي اقتصادي پیاوړتیا څخه مخنیوی دئ (وګوري: Scheffran, Jürge, 2003).

خو د سیمي نومول شوي هیوادونه، په تیره چین او روسیه د شانګهای د همکارۍ سازمان د ځواکمنو هیوادونو په توګه، د متحدو ایالتونو دا دوه ګوني ستراتیژۍ، خپلو ستراتیژیکو ګټو ته ګواښ وباله. نو ځکه دوي په افغانستان کي د طالبانو له راپرځولو او د القاعده د نړیوالي ترهګرۍ شبکي د روزنیزو کمپونو د له منځه وړلو وروسته، د ۲۰۰۵ کال د جولای د میاشتي په پنځمه نیټه، له متحدو ایالتونو څخه وغوښتل، چي له منځني اسیا څخه د خپلو پوځیانو مهال ویش وټاکي (وګوري: Kneissl, K., 2006). د همدي اغیز او نورو مسایلو له امله پنتاګون دي ته اړ شو، چي خپل پوځیان له قرغیزستان څخه پرته د منځني اسیا له نورو هوایي اډي څخه وباسي. د همدي لامَل پر بنسټ، افغانستان له ستراتیژیک پلوه د شمالی اتلانتیک د پوځي تړون (ناتو ) له پاره لا نور هم مهم شوی دئ. خو د شانګهای د سازمان غړي او ناظر هیوادونه، په افغانستان کي د ناتو د سازمان پوځي شتهوالی نه یوازي خپلو ستراتیژیکو ګټو، بلکي ان زمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ بولي او دا ویره بېځایه هم نه ده. ځکه د متحدو ایالتونو د څارګر سازمان CIA افسر، رالف پیترز په خپل جنجالی مضمون، "خونړي پولي"، چي د پنتاګون په یوې نامتو مجله کي خپور شوی دئ، لیکي: " هغو کسانو ته په ځواب کي،

چې نوې پولې اړينې نه او ان د هغو په اړه فکر کول له واقعيت څخه لرې مسأله بولي، بايد يادونه وشي، چې په دغو پولو کې بدلون هيڅکله په خپل ځاى ولاړ نه دئ او د غه شرطونه هم هيڅکله ثابت نه وو. ډيرې پولې له کانګو او کوزوو څخه نيولې بيا د قفقاز تر غرونو پورې دومره چټکې د بدلون په حال کې وې او دې لکه څنګه چې دولتونه خپل سفيران او استازې د سترګو په رپ کې بدلوې (Ralph Peters, 2006). د هيوادونو تر منځ پولې که په تيره پيړۍ کې رامنځته شوې او يا د پيترز په اوسنې طرحه کې په پام کې نيولې شوې، موخه يې يوه ده او هغه د تيلو پر زيرمو او نل ليکو کنترول دئ. امريکايي سياست پوه، فريدريک ستار Frederick Starr په دې وايي: "څوک چې وکړى شي، د نل ليکو د نقشې د پلى کيدو په اړه تصميم ونيسي، هغه د نړۍ د يوې سترې برخې برخليک ټاکلى شي" (Kneissl, K., 2006). د دغې ادعا د ثبوت له پاره اړينه بريښي، يو څه تير تاريخ ته نظر واچوو او دا راوسپړو، چې د فسيلي انرژۍ ډيپلوماسى څنګه رامنځته او د کومو هيوادونو له خوا په کومه بڼه د عمل په ډګر کې پلې شوې او کيږي.

پاتې نور بيا